AMED
Push
Cage

BP 134
.P6
K4916
1915
COPY 1

LC Control Number
2001 310184
2001 310184

هدیهٔ حضور عالی

رسالهٔ (پښتو) اطاعت اولی الامر که از رسالهٔ

مؤلفهٔ فارسی

بزبان افغانی ترجمه شده و از حضور

حضرت عالی

معین السلطنه صاحب فخیم برای رعایای افغانی زبان دولت خداداد

افغانستان

مفت و رایگان داده میشود

در مطبع سنگی

ماشین خانهٔ دار السلطنهٔ کابل طبع شد

در سنه ۱۳۳۴ هجری

Khan, Abd al-Rabb

هدیه خصوصی عالی

رساله

پیشوا طاعت اولی الامر

که از

رساله مؤلفه فارسی بزبان افغانی

شده و از حضور حضرت عالی متعالی معین السلطنه

صاحب المحترم برای رعایای افغانی زبان دولت خداداد

افغانستان مفت و رایگان داده میشود

در مطبع کی ماشینخانه دار السلطنه کابل طبع شد

سنه ۱۳۳۴ ه

عدد طبع بار اول یکهزار و دو صد (۱۲۰۰) نسخه

1915

(عرض دَ مترجم)

دا رساله، ژمامخدوم جناب
(مولوی عبدالرّب خان) صاحب
چه فاضل اَو عالم او ښه غوښتونکی
دَ اِتفاق دَ ملت او دَ دولت دی۔
په فارسی ژبه تالیف کړے ده۔
دے حقیر حسب الاشاره دَ ده
په پښتو ترجمه کړه۔ اُمید لرم چه پښتانه
به په ښه توجه مطالعه او معموله کی۔

(صالح محمد) (معلم افغانی مدرسهٔ حبیبیهٔ مبارکه)

(هوالله الموفق)

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

(اِفادهٔ مرام)

دا امر معلوم دی چه اراده د خدای تعالی
پر ترقی د حالت د یو قوم تللے وِی نو تول له ارادے
د افراد و د مِلت و یوه طرف ته متوجه کِی -
شِقاق او نفاق له زړه وځی د هغه قوم د دفع
او رفع کی - تول افراد د ملت متفق اللفظ و المعنی

په ترقی کی دَ دِین اَوْ دَ دُنیا ساعی او کوښان وِی
هر یو دَ بل دَ مقصد په حاصلیدو کِی کوښښ
کَوِی - اَو هر فرد دَ بل مسلمان مقصد او مطلب
خپل مراد اَو مطلب وګڼی - څو دَ ټولو مقصد
اَو مطلب یَوْ وګرزِی - یَو داسی اتحاد او اتفاق
حقیقی ظاهر سی چه په عینِ کثرت کی دَ اَفْرادُو
دَ مِلَّت یو وَحدت ملاحظه کیږی - چه نتیجه
یه سعادت دَ دْوَارو جهانو وِی - او په کُچنی
مملکت کی ډیرِی ظاهری اَوْ باطِنی فایدے
حاصلیږی - اَو په لږ مُده کی یَوْ دَاسِی ترقیات
فوقُ الْعاده پیدا سی چه نُوْر لُوی دَولتونه

چه له سعادته دَ اِتحاد اَو اِتفاق محروم وِی
په ډیرو مدتو داسی نتایجِ حَسَنَه نسی پیدا کولای
دا سعادت دَ اِتفاق اَو اِتحاد له څه حاصلیږی
معلومه ده چه اصلی علت یه (اتحاد دَ مقصد -
یعنی یَوْوَالی دَ مطلب) دی نو که دتُولُوا فرادُو
مقصدا و مطلب ترقی دَ دِین وی دین بے
ترقی وَکِی - او که دَ دُنیا و ترقی ته متوجه سِی -
دُنیا بے ترقی وکی -

فرد

که حاصل سِی اتحاد دَ مقصد چاته
دین دُنیا به یه بیشکه ترقی کی

او تحصیل دَ دِی مطلبِ اعلیٰ یعنی (اتحاد دَ مقصد)
چه سرمایه دَ ترقی او دَ سعادت دَ دوا ړو
جهانو دی - په اطاعت او اتباع کښ دَ فردِ
اوّل اَوْ رُکنِ اکمل دَ دِین و دَ دَولت - اوْ زړه
اَوْ رُوح دَ رعیت چه وجودِ باجود دَ خلیفهٔ
زمان او سایه دَ خدایِ رحیم رحمن دی انحصار
لری - او بے له دے امکان د حصول نه لری -
ولی چه ارادهٔ اَزلی پُر دے تللے ده چه په
هر وقت او هره زمانه کښ بے وجود دَ نبیانو
اَوْ دَ رَسُولانو یه خپل بندگان و راهِ راست
ته نه دِی را اَړَوَلِی - اَو دَ دُوی اِرشاد

او هدایت یه په ذریعه دَ اَنبیا وُوْ دَ زمانے
حاصل کړی دی - او پس له ختم دَ نبوَّت یه
خُلفایِ راشدین جانشین دَ پیغمبر مُقرر کړی
دی - او هغه وظیفه دَ هِدایت او دَ اِرشاد
دَ بندگانو یه پُر دُوْی باندِی ایسے ده - اَو پس له
خلافتِ راشده یه حقوق دَ خلافتِ راشِده
پر ذمّه دَ اسلامی سلاطینو ایسے دی - تر هغو څو
مسلمانانو اطاعت اَو محبت دَ اِسلامی پادشاهانو
په کمال دَ صداقت در لُوْوْ - دین اَوْ دُنیا یه
ډیره ترقی کړے وه - اَو اسلامی سلطنت
وَ ډِیری ترقی اَو پراخی ته رسید لی وُو -

پس له هغه وقته چه مطلبِ اعلی دَ (اتّحاد د مقصد)
برطرفه او ورك سوی دی اَوْ دَ مسلمانانو
مقصد ونه یو له بله متغیر اَو مخالف سَوِی دی
معلومه ده چه حالت اَو سلطنت دَ اِسلام
مخ پُر تنزُّل اَو خرابی دَی
نُو موږ پښتانه چه الحمد للهِ والمنه یَوْ دین
او یو مذهب او یو پادشاه لَرُوْ - او په ذاتی شجاعت
اَوْ مړانه مُتَّصِفْ یُو - اَو مقصد دَ پادشاه اَو
دَ رعیت اَوْ دَ ټولُو افرادُو دَ مملکت مُو یَو دی -
اَو له فضل وُله مهربانی دَ خدای تعالے
په رعیتی دَ خپل مهربانه پادشاه

(اعلیحضرت سراجُ الملّة والدّین) فخر کوو-
اَوْ رَضا دَ خدای تعالی او دَ پیغمبرِ مجتبیٰ
علیه الصّلوة والسلام په رَضا او اِطاعت
کښِ دَ خپل پادشاه په حکم دَ دِین اَو دَ اِیمان
مُنحصره بُولُو- اَو فنا دَ خپلو اَرْواحُو په اِطاعت
کښِ دَ خپل اُولی الامر فرض اَوْ لازمَ بُولُو اَوله
دِے لُوی نعمته چه (اِتحادْ دَ مقصد)
دَ پادشاه اَوْ دَ رعیتو دی اُمید وار دَ دِین
اَو دَ دُنیا دَ لُویُو لُویُو ترقیّاتو یُو- پر موږ
رعایا وُو فرض دی چه شکر دَ دِے نعمتِ عظمی
اداکو- اَوْ دَوام دَ دِے سعادت له حضرتِ

فیاضِ مُطلق څخه په ډیر عجز اَو نیاز وَغواړو۔

بیت

خدایه تا چه دا نعمت را کړی موږ ته
تل دِ وِی په تزاید کِی څو جهان دے

اَو علاوه پُر اَدا دَ شکر کامله توجه لَرُو
چه په اتحاد اَو اِتفاق کی یَوْله بَلَه ساعی یو۔ اَوْ
اَوامِرِ الٰهِیَّه اَو اِرشاداتِ نَبَوِیَّه چه مدار
زمُوږ دَ سعادت دِی په باب کښِ دَ اِتحاد
اَو اِتفاق اَو اِطاعت او محبت دَ خپل خلیفه
دَ زمانے مَدِّ نظر لَرُو۔ چه خدای تعالی اَو
محمدِ مصطفیٰ اَو اِمامانو اَو مُقتدایانو دَ دِین

پہ دِے باب کښ څہ فرمایلی دی - اَو زمُوږ
پښتنُو دَ پارہ پہ دِے زمانہ کښِ څہ دستُور
العمل راکړی سَوَی دَی - پہ دِے رِسالہ
کښِ بعضِ اَوَامر الٰهیَّہ اَو سُنَنِ نَبَوِیَّہ اَو
اَعمال او اَقوال دَ أَئِمَّہ وُو دَ دِینِ مُبین چہ
تعلیم او تعلُّم دَ هَغُو وَ تُولُو پښتنو اَو باقی
وُو رَعایا وُلہ ضرور دی نوشتہ سَوِی دی
پہ اِجازہ دَ حضرت عالی متعالی جناب معین السلطنہ
صاحب چہ یَولُوی شهزادہ دَ مسلمانانو
خصوصا زموږ پښتنو دی پہ زر و زرو
پہ فارسی اَو پہ پښتو چاپ سَوِی دی -

اَوْ وَټُولو تہ مُفت ورکَوَلِی کیږی ÷

خدای تعالی دِ وَټولو پښتنو تہ توفیق

ورعَطاکِی چہ دا اَوامَر سَنِیَّہ دَ زړہ پہ

غُوږ وَاروِی اَوْ عمل پہ وَکِی - اٰمین

یا رب العلمین -

[المؤلف]

(حقیر عبد الرَّب عفی اللہ عنہ)

بسم اللہ الرحمن الرحیم

(اطاعت دَ اولی الامر)

(۱) ﴿ ایات کلام الٰہی ﴾

یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِیْعُوا اللّٰهَ وَاَطِیْعُوا
الرَّسُوْلَ وَاُولِی الْاَمْرِ مِنْكُمْ فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِیْ شَیْءٍ
فَرُدُّوْهُ اِلَی اللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ
بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ ذٰلِكَ خَیْرٌ وَّاَحْسَنُ تَاْوِیْلًا ۝

(سورۂ نساء پارۂ پنجم)

یعنی ای صاحبانو دَ ایمان اطاعت دَ خدای
اَو دَ رسول اَو دَ خپلو امیرانو پرخان لازم ونسی
او په هر امر کښې چه مو نزاع اَو خلاف سی وَ
امر ته دَ خدای اَو دَ رسول مراجعه کوی۔
که مو پر خدای اَو دَ اخرت پر روخ ایمان
راوړی دَی۔ اَو دَ اټوله ارشادات دَ خدای
ستاسی دَ پاره خیر اَو سبب دَ ښه انجام دی۔

(۲) (اَحادیثِ نبوی)

عَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ
رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ۔ مَنْ اَطَاعَنِی
فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ وَمَنْ عَصَانِی فَقَدْ عَصَی اللّٰهَ

وَمَنْ يُطِعِ الْاَمِيْرَ فَقَدْ اَطَاعَنِيْ وَمَنْ يَّعْصِ الْاَمِيْرَ فَقَدْ عَصَانِيْ وَاِنَّمَا الْاِمَامُ جُنَّةٌ يُّقَاتَلُ مِنْ وَّرَائِهٖ وَيُتَّقٰى بِهٖ ٭

(صحیح مسلم او بخاری)

یعنی له حضرتِ ابوهریره چه یوله لویو اَصحابو دَ حضرتِ محمّد مصطفی علیه الصلوة والسلام دی - روایت دِی چه انحضرت فرمایلی دی چه چه زما اِطاعت وکی دَ خدای اطاعت یه وکی - اَو چه چه زما نافرمانی وکره دَ خدای نافرمانی یه وکره - او څوك چه اِطاعت دَ خپل امیر وکی زما اِطاعت

یه وکی - اَو هغه څوك چه نافرمانی دَ اَمیر کوِی
زمانافرمانی یه وکړه - پادشاه یَوْدَاسِی سپردی
چه دَدَه ترشا جنگ کیږی - او ساتنه هم
په دَه سَرَه کِیږِی - یعنی مُقاتله اَو مغلوبی
دَد ښمنانو اَو حِفْظ اَوْ نگهبانی دَ رَعایاوُو
دْوَاره مُنْحَصر دَ پادشاه په وجُود پُوری دی -
(له دِے اِرشادِ نَبَوِیْ وَدِے نتیجه ته
وَرَسیدُ وچه له دُ ښمنانو سَرَه مقاتله
بے اَمره اَو متابعت دَ پادشاه زموږ
دَ پیغمبر له اَمْرَ مخالفه ده)
عَنْ اُمِّ الْحُصَیْنِ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - اِنْ اُمِّرَ
عَلَيْكُمْ عَبْدٌ مُّجْدَعٌ يَّقُوْدُكُمْ بِكِتَابِ اللّٰهِ
فَاسْمَعُوْا لَهٗ وَاَطِيْعُوْا ۔

(صحیح مُسلم)

یعنی حضرت امّ الحصین رضی اللہ عنہا
چہ یَوَہ لہ ښځو صحابیا تُو د حضرتِ رسالتمآب
اَو راوی دَ ډیرُو اَحادیثِ شریفہ وُو
دَہ داسِی فرمائی چہ اٰنحضرت صلی اللہ
علیہ وَسلم فرمایلی دِی کہ یو پزہ غُوږ
پریکړی مرَیی پرتاسی اَمیرسی - چہ
پہ حکم دَ خدای اَو دَ رسول ستاسی پہ میان

کښ حکم کوي قبول دَ اَمر اَو دَ اِطاعت یه
پُرتاسی واجب دی.

عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ
صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اسْمَعُوْا وَاَطِیْعُوْا
وَاِنِ اسْتُعْمِلَ عَلَیْکُمْ عَبْدٌ حَبَشِیٌّ کَاَنَّ
رَاْسَهٗ زَبِیْبَةٌ.

(صحیح بخاری)

یعنی حضرت اَنَس بن مالك رضی الله عنه
چه دَ انحضرت صلی الله علیه وسلم
دحضور خادم وُ- فرمایلی دی چه حضرت
رسول مقبول فرمایلی دی- چه دَ خپل

عامل امر او اطاعت پر جان لازم ونسی که
څه هم ستاسی عامل حبشی غلام وی
چه سر یه لکه یوه دانه دَ وُچکی وی -
مطلب دا دی چه دَ خلیفه عامل لکه
پخپله عامل لازم الاطاعت دی - اَو
مراد له کچنی والی دَ سر یه نقصان دَ عقل
دی چه په قرار دَ ارشادِ محمّدی صلی الله
علیه وسلم نقصان دَ عامل سبب دَ عدم
اِطاعت دَ خلیفه نه گرزی - بلکه عدم
اطاعت دَ عامل سبب دَ عدم اِطاعت
دَ خلیفه گرزی ۰

عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ
سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ
یَقُوْلُ مَنْ خَرَجَ مِنَ الطَّاعَةِ فَمَاتَ مَاتَ مِیْتَةً
جَاهِلِیَّةً وَمَنْ قَاتَلَ تَحْتَ رَایَةٍ عُمِّیَّةٍ
وَیَغْضَبُ لِعَصَبِیَّةٍ فَقُتِلَ فَقِتْلَةٌ جَاهِلِیَّةٌ
وَمَنْ خَرَجَ عَلٰی اُمَّتِیْ بِسَیْفِهٖ یَضْرِبُ بَرَّهَا
وَفَاجِرَهَا وَلَا یَتَحَاشٰی مِنْ مُّؤْمِنِهَا وَلَا یَفِیْ
لِذِیْ عَهْدٍ عَهْدَهٗ فَلَیْسَ مِنِّیْ وَلَسْتُ مِنْهُمْ

(صحیح مسلم)

یعنی حضرت ابی هریره رضی الله عنه
فرمایلی دی چه له انحضرت صلی الله علیه وسلم

می اَ روید لی دی چه فرمایل بے څوك چه
له اِطاعت دَ پادشاه و ووت او په هغه
حالت کښ مړ سُو مرګ یه مرګ دَ جاهلیّت
دی - چه دَ مسلمانی احکام نه پر جاری
کیږی -

او څوك چه ترنا معلوم بیرَق لا ند
(یعنی هغه بیرق چه حقیقت او حقّیّت
یه نه وی معلوم) مقاتله وَکی اَوْ د قومی
تعصُّب دَ پاره په غضب سوی وی
اَو قَتْل سی دَ هغه قتل هم په قِسم دَ جاهلیّت
دی - اَو څوك چه زما پر امت تو رَه

وَکاږی ښه اَوْبدیه یو رنګه وهی - اَوْ زماله
مُؤمن امتی کناره نه وکی اوله خاوند سره
دَعهد وَفا په عهد ونه کی - نُو دَ اسِی کسان
نه زْمادِی اَ ونه زه دَ دُوْی یَمْ +
که دَا اَوامِر سَنیَّه او اِرشاداتِ نافِعه
چه په دِے حدیْثِ شرِیْفِ نبوی کی وارِد
سَوِی دی په نظر دَ بصیرت ملاحظه سی
ښکاره او ظاهره دَه چه اُصُوْل دَ کلی
اصلاحاتو په دَه کِی مُنْدَرِج دی - چه
اجمال دَ هغه اوامرو په دی رنګه دی
(۱) دَ یاغِی کسانُو مرګ مرګ دَ جاهلیّت دی

(۲) هغه کسان چه په یو امر نا معلوم او خیال خام له پادشاه سره د زمانے مقاتله کوی او د فساد او د فتنے تر یرق لاندی اجتماع او تولنه وکی او مره سی - مرگ یه د جاهلیت دی نه د شهادت .

(۳) هغه کسان چه په سبب د قومی تعصّبا تو او د دشمنی په غضب سوی وی او یوله بله سره وژنی او پر خلاف د امر د پادشاه په خپل میان کی فتنے او فساد وینه برپا یه وی د دوی قتل د جاهلیّت دی نه د شهادت -

(۴) هغه څوك چه وكشت وخون ته
راغب وِی - اَوْښه اَوْبد مسلمانان ټوله
یو رنګه وژنی او په عهد وفا نه کوی دَا ټوله
اُمور سَبَبْ دَنا رضائی او بیزاری
دَرسول دَخدای دی.

چه له حق سبحانه تعالی څخه نجات
اَوساتنه دخپل قوم او دټولو پښتنوله
دِے فساده غواړو!

عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكِ نِ الْاَشْجَعِی رَضِیَ اللّٰهُ
عَنْهُ قَالَ خِیَارُ اَئِمَّتِكُمُ الَّذِیْنَ تُحِبُّوْنَهُمْ
وَیُحِبُّوْنَكُمْ وَتُصَلُّوْنَ عَلَیْهِمْ وَیُصَلُّوْنَ عَلَیْكُمْ

وَشِرَارُ اَئِمَّتِكُمُ الَّذِيْنَ تُبْغِضُوْنَهُمْ
وَيُبْغِضُوْنَكُمْ وَتَلْعَنُوْنَهُمْ وَيَلْعَنُوْنَكُمْ قَالَ
قُلْنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَفَلَا نُنَابِذُهُمْ عِنْدَ ذٰلِكَ
قَالَ لَا مَا اَقَامُوْا فِيْكُمُ الصَّلٰوةَ لَا مَا اَقَامُوْا
فِيْكُمُ الصَّلٰوةَ - اَلَا مَنْ وُلِّيَ عَلَيْهِ وَالٍ
فَرَاٰهُ يَاْتِيْ شَيْئًا مِّنْ مَّعْصِيَةِ اللّٰهِ فَلْيَكْرَهْ
مَا يَاْتِيْ مِنْ مَّعْصِيَةِ اللّٰهِ وَلَا يَنْزِعَنَّ يَدًا
مِّنْ طَاعَةٍ ۔

(صحیح مسلم)

یعنی عوف بن مالک اشجعی چه صحابی
در رسول خدای دی فرمایلی دی - چه

بهترین ستاسی دَ پادشاهانو هغه دی
چه تاسی دُوی دوست لری اَوْ دوی تاسی
دوست لری - او تاسی دَ دُوْی دُعا گوی
او صفت کونکی یاسْت - اَوْ دوی سْتاسی
دعا گوی اَوْ صفت کونکی وی - اَوْ بدترین
ستاسی دَ پادشاهانو هغه دی چه دُوی
ستاسی مبغوض وی او تاسی دَ دُوْی
مبغوض یاست - او تاسی دَ دُوْی مذمت
کونکی اَو بد گوی یاست - اَوْ دوی ستاسی
حضرت عوف چه راوی دَ دِے
حدیث شریف دی وائی چه موږ جماعه

دَحاضرینُو اصحابو پہ حضُور دَ اٰنحضرت
صَلّی اللہ علیہ وَسلم عرض وَکی چہ کہ
زمونږ پادشاهان لہ دویمہ قسمَ وی اٰیا
دَدُوی پادشاهی باقی پاتہ کېږی ؟
اٰیا مُونږ لہ دوی سرہ مقاتلہ ونہ کو؟ او ددوے
اطاعت لہ خپلو غاړو وانہ ړُوو ؟
اٰنحضرت علیہ الصّلوۃ والسلام پہ دیر
شدّت وفرمایل څوشتاسی پہ منځ کښ
نمونځونہ کوی او لہ نمانځہ انکار نہ کوی
گاهے لہ دُوی سرہ مُعارضہ مہ کوی
گاهے لہ دُوی سرہ مُعارضہ مہ کوی

اَوْ تکرار دَ دِے فقرے دَ تاکید دَ پارہ دی
پس لہ ھغہ یہ دَاسِی وَ فرمایل چہ اٰگاہ
اُوْسی اے امّت مرحومہ! پہ دے چہ
کہ څوك لاندِی تر حکومت یا وِلایت
دَ یَوْ وَالی وِی - او یو گنُہ لہ گنھُو
دَ خدای تعالی لہ خپلہ وَالی و وینی
نو لازم دی چہ ھغہ گناہ پہ زړہ
کښ بَدْ وگنړِی - لکن گاھے لہ اِطاعت
سَرْ ونہ باسی .

(لہ دے حدیث شریف دَ انتایج)

(حاصلیږی)

(۱) دَاچه دَمسلمانانو امیران ښه اَوبدوی
او بِهتِرین دَپادشاهانو هغه دِی چه
دُوْی له رعیّتو راضی وِی اَوْ رعیّت له
دُوْیه - او بدترین دَپادشاهانو بالعکس
دَدِے دِی .

(۲) دَاچه که خُدای نَاخواسته دَمسلمانانو
پادشاه دَخپل قوم مبغوض وگرزی -
اَوْقوم مبغوض دَپادشاه سی - تر هغو
څو اٰثار دَاسلام لکه اَداد نمانجه اَوْنور
شعایر دَاسلام یه نه وی ترک کړی -
رعایا وُوله سره له مبغوض وَالِی

دَطرفَینُو اِطاعت دَپادشاه لازم اَوواجب
دی - اَوْمبغوض والی اَوْعدمِ رضاله
پادشاه گاهی (مُجوِّز) اَوْرَوَاکُونکے
دَنافرمانی نه گرزِیْ.
(۳) دَاکه رَعایا له خپله وَالِی یا پادشاه
گَوَلْ دَیَوْگُنه له گنهو دَخدای تعالے
وَوینی - نو په قرار دَامرد پیغمبر لازم دی
چه هغه گناه په زړه کښ بد اَوْمکروه
وگڼی - اوله دَرگاه دَخدای تعالی
چه پادشاه حقیقی دی داسی سوال وَکی
چه هغه گناه یه په طاعت بَدل سی -

او پہ سبب دَ لیدُو دَ گناہ دی گاہے
لہ اطاعت سَر نہ باسِی۔ چہ دَ گناہ
لیدل عذر دَ عدم اطاعت نہ گرزی۔

عَنْ عَبْدِ اللّٰہِ بْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی
عَنْہُمَا قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ
عَلَیْہِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ مَنْ خَلَعَ یَدًا مِّنْ طَاعَۃٍ
لَقِیَ اللّٰہَ یَوْمَ الْقِیٰمَۃِ وَلَا حُجَّۃَ لَہٗ۔ وَمَنْ
مَّاتَ وَلَیْسَ فِیْ عُنُقِہٖ بَیْعَۃٌ مَاتَ مِیْتَۃً
جَاہِلِیَّۃً۔

(صحیح مُسْلم)

یعنی عبد اللہ زُوی دَ امیر المؤمنین عمُر

ابن الخطّاب فرمایلی دی چه له انحضرت
علیه الصّلوة والسّلام مې اَرْوِیدلی
دی چه فرمایل بے چا چه لاس له اِطاعت
اَوْله فرمان برداری وَکیښ دَ قیامت
په روځ به له خدای تعالی سره مُلاقی
سی او هیڅ حجّت او سند دَ نجات به نه
لری - اَوْ څوك چه مړ سِی او په غاړه
کښِ په بَیْعت نه وی دَ امرگ په دَ جاهلیت
دی .

(مفاد د حدیث شریف)

(۱) دا چه لاس کښل له اِطاعت دَ پادشاه

دَزمانے سبب دَباطلیدُو دَټولُو دَلایلو
دَنجات اُخروی دَمُؤمن دی - یعنی که
څه هم خِورا ډیر دَلایل دَعبادَت دَپاره
دَنجاتِ اُخروِی لَرِی - او په اِطاعت
کښ یه لږ څه خلل وِی دَادَرد بیدرمان
ټوله باطل وی - (حق سُبحانه تعالے
دِقوم اَوْرعیّت دَاَفْغانستان له دے
مصیبت وساتِی اٰمین!)
(۲) دا چه هغه کسان چه په یاغستانو
کښ بود وباش لری اوله مُسلمان پادشاه
سره یه بیعت نه وی کړی - او په غاړه

کښ یه طوق دَ اِطاعت دَ مسلمان پادشاه
نه وی - مرگ دَ ټولو مرگ دَ جاهلیت دی
الحمد لله په زرُو زرُو شکرونه
دی وی حضرت پادشاهِ حقیقی ته
(جلّ جلاله) چه بَښتانه له خپله قومَ
مسلمان دِین دَاره پادشاه لری - اَو
دَ جاهلیت له مرگه بر طرف اَوساتلی دی
عَنْ عَرْفَجَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ
سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ
یَقُوْلُ اِنَّهٗ سَتَکُوْنُ هَنَاتٌ وَهَنَاتٌ
فَمَنْ اَرَادَ اَنْ یُّفَرِّقَ اَمْرَ هٰذِهِ الْاُمَّةِ

وَهِیَ جَمِیْعٌ فَاضْرِبُوْهُ بِالسَّیْفِ کَائِنًا
مَنْ کَانَ ۔

(صحیح مسلم)

یعنی حضرت عرفجه رضی الله عنه
چه صحابی دی داسی فرمائی چه له رسول الله
(صلی الله علیه وسلم) می اَرْوِیدَ لی
دی چه فرمایل بے - ژر دی چه ډیر
فسادُونه اَوْ شور وشَرُونه پیښ سی -
نو هر هغه څوك چه اِراده دَ تفریق
دَ امر دَ اُمت وکی په داسی حال کښ
چه اُمت جمع اَوْ متفق وی - په توره یه وهی

هغه تفریق کونکی هر څوك
چه وي .

(مفاد دَ حدیث شریف)

له دِے حدیث شریف ظاهِره
معجزه دَ آنحضرت صلے الله علیه وسلم
ثابتیږی چه پخواتر وقوع دَ فساد وُ
اَوْ دشر واَوْ دَ نزاع یه په اَمر کښ دَ خلافت
پیش گوئی کړے ده - اَو دَ اصحابو اَوْ
د باقی و مسلمانانو هدایت یه کړی دی
(۲) دا هَر څوك چه یو داسِی اُمّت ته
چه پُر یو سړی یه اِجتماع حاصل سوی وی

او دی تفریق ورکوی لازم القتل دی
مطلب دا دی که یو سړی مدّعی د فضیلت
وی او باعث او سبب د فتنی وګرزی
او په اجتماع کښ د مسلمانانو خلل
اچوی هغه سړی سره له فضیلة
واجب القتل دی - له دے جهته چه تصریحات
د شرعی اوامر و او هدایات د نبی
د اقوالو مقتضی د بقا د امن و امان
او دفع د فساد او د فتنے دی - او تحریک
د فتنے که څه هم فرضاً د پاره د ښے
نتیجے وی په حکم د شریعت ممنوع

او مُحَرِّك یه واجب القتل دی۔

وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ اَتَاكُمْ وَاَمْرُكُمْ جَمِيْعٌ عَلٰى رَجُلٍ وَّاحِدٍ يُرِيْدُ اَنْ يَّشُقَّ عَصَاكُمْ اَوْ يُفَرِّقَ جَمَاعَتَكُمْ فَاقْتُلُوْهُ۔

(صحیح مسلم)

یعنی دغه رنگه حضرت عرفجه (رض) چه دَپخوانی حدیث راوی دی۔ فرمایلی دی چه له حضرت رسول مقبوله علیه الصلوة والسلام می آرویدلی دِی چه فرمایل بے چه که ستاسِی اِمارت

پُریَوْسړی قرار نیوَلی وی اَوْ ستاسِی
اجتماع پر حاصل سوی وی - هَرْ
څوك چه ستاسی په اِتفاق کښ اِراده
دَخلل اندازی وکی - یا ستاسی وجماعت
ته تفریق اَوْ جدائی ورکوِی هغه
سَړی مَرْکَیْ .

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بِنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا
قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ
مَنْ بَایَعَ اِمَامًا فَاَعْطَاهُ صَفْقَةَ یَدِهٖ وَثَمَرَةَ
فُؤَادِهٖ فَلْیُطِعْهُ اِنِ اسْتَطَاعَ فَاِنْ جَاءَ
اٰخَرُ یُنَازِعُهٗ فَاضْرِبُوْا عُنُقَ الْاٰخَرِ - (صحیح مسلم)

یعنی حضرت عبدالله بن عمر (رض)
روایت کړی دی چه انحضرت علیه
الصّلوة والسلام فرمایلی دی چه له یَوَه
پادشاه سره بیعت وَکی او دَلاس پیمان
اَوْ ثمره دَ زْرَه یه وده ته ورکړه نو لازم
دی چه څو یه قدرت اَوْ اِستطاعت
وِیْ دَدَه په اطاعت کښ به قصور نه
کَوی - اَوْ که بل یَوْ راسی له دغه موجود
پادشاه سَرَه منازعه اَوْ جنگ وکی
دَ هغه گردن وَوَهی.
عَنْ اِبْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا

اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ
السُّلْطَانَ ظِلُّ اللّٰہِ فِی الْاَرْضِ یَاْوِیْ
اِلَیْہِ کُلُّ مَظْلُوْمٍ مِّنْ عِبَادِہٖ فَاِذَا عَدَلَ
کَانَ لَہُ الْاَجْرُ وَعَلَی الرَّعِیَّۃِ الشُّکْرُ وَاِذَا
جَارَ کَانَ لَہُ الْاِثْمُ وَعَلَی الرَّعِیَّۃِ الصَّبْرُ

یعنی لہ حضرت عبد اللہ بن عمر
فاروق (رض) روایت سوی دی
چہ انحضرت علیہ الصلوۃ والسلام
فرمایلی دی پادشاہ سایہ دَ خدای
تعالے دہ پہ مخلوق کی۔ چہ ہر مظلوم
اَوستم دیدہ لہ بندگانو دَ خدای تعالے

وَدَه تہ رجوع کوی - او پہ دَاد خواهي
ودَه تہ ورجی - کہ عدل وکی ده لہ
اجر ثابِت دی - اَوْ پُرْ رعایا وُو شکر
لازم دی - او کہ ظلم اَوْ جَوْر وَکی
پُرْدَهْ دگناه بار لازم - او پر رعایا
وُو صَبْر واجب .

عَنْ يُوْنُسَ بْنِ اِسْحٰقَ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ
قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
كَمَا تَكُوْنُوْنَ كَذٰلِكَ يُؤَمَّرُ عَلَيْكُمْ .

یعنی حضرت یونس بن اسحٰق تابعی
لہ خپلہ پلاره چہ صحابی دَ حضرت

رسول علیه الصّلوة والسلام دی۔
روایت کړی دی چه آنحضرت
صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی
لکه تاسی چه یاست دغه سی امیر
او حاکم پر تاسی مُسَلَّطِیږی۔ یعنی
بسه والی اَوبد والی دَ حاکم پر برابری
دبسه وَالِی اَوبد والی ستاسی دی
او په دَ غه مضمون په بل ځای کی
ثابت سوی دی چه (اَعْمَالُکُمْ
عُمَّالُکُمْ) یعنی ستاسی عملونه ستاسی
عاملان دی۔ تفصیل دَ دے

خِطاب پہ اینده حدیث کښ ښه
ذکر سوی دی.

عَنْ اَبِیْ دَرْدَآءَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ
قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ
اِنَّ اللّٰہَ تَعَالٰی یَقُوْلُ اَنَا اللّٰہُ لَآ اِلٰہَ اِلَّآ اَنَا
مَالِکُ الْمُلُوْکِ وَمَلِکُ الْمُلُوْکِ قُلُوْبُ الْمُلُوْکِ
فِیْ یَدِیْ وَاِنَّ الْعِبَادَ اِذَا اَطَاعُوْنِیْ حَوَّلْتُ
قُلُوْبَ مُلُوْکِہِمْ عَلَیْہِمْ بِالرَّحْمَۃِ وَالرَّأْفَۃِ
وَاِنَّ الْعِبَادَ اِذَا عَصَوْنِیْ حَوَّلْتُ قُلُوْبَہُمْ
بِالسَّخْطَۃِ وَالنَّقْمَۃِ فَسَامُوْہُمْ سُوْءَ الْعَذَابِ
فَلَا تُشْغِلُوْآ اَنْفُسَکُمْ بِالدُّعَآءِ عَلَی الْمُلُوْکِ

وَلٰکِنِ اشْغِلُوْا اَنْفُسَکُمْ بِالذِّکْرِ وَالتَّضَرُّعِ
کَیْ اَکْفِیَکُمْ مُلُوْکَکُمْ

(ابونعیم پہ کتاب کی د حلیۃ الاولیا)
یعنی حضرت ابودرداء چہ صحابی
دی (رض) روایت یہ کړی دی
چہ آنحضرت علیہ الصلوٰۃ والسلام
فرمایلی دِی چہ خدای تعالے وائی
زہ خدای یم پرحق غیر لہ ما هیڅ معبود
برحق نستہ مالک او خاوند دپاد
شاهانو یم۔ او پادشاه دپادشاهانو یم
دپادشاهانو زړه ونه زما د تصرف

پہ لاس کِی دی - کہ بندگان زْمَا
اِطاعت کَوِی نو دَ پادشاهانو زړونہ
بہ پردوی نرم او مهربان کم - اَوْ کہ
بندگان زْمانا فرمانی وَکی نو د پادشا
هانو زړُونہ بہ پہ قهر او پہ عذاب
رَسَولُو بَدْلَوَمْ - چہ دوی پہ سخت
عذاب سره پہ عذاب کی - نو چہ دا
تُول اُمُور زما پہ اراده او فرمان
سره مَخْصُوص دِی نو گاهے پہ
بَدْ ویلو د پادشاهانو مہ مشغولیږی
لکن چہ لہ دوی څخہ ظلم اَوْسِتم

وَوِینی نوژماو درگاه تہ پہ ذکر
او تضرع او زاری یُو مشغول سَی چہ
شتاسی کفایت شتاسی لہ پاد
شاهانو وکم دا حدیث (حدیث
قدسی دی) چہ لفظ او عبارت یہ
دَحضرت رسولِ مقبول اَوْ مضمون
یہ دَخدای تعالے دی چہ رَسول
دَخدای یہ پہ خپلہ ژبہ مُبارکہ
حکایت کړی دی - وموږ پښتنو
مسلمانانو تہ چہ الحمد للہ عقیدے
مُوْکاملی دِی کافی او شافی دستور

العمل دی چه دَ ټولو کار و اختیار
د حق تعالے دی - نیکی اَو بدی دَ بالا
دستانو تَرَلیدَه په ښه عمل او بد عمل
دَ زِیر دستانو - که زیر دستان ښه
وی بالا دستان به ښه وی او که
زیر دستان بد وی بالا دَستان
به بد وی - حق سبحانه تعالے دی
زمونږ عملونه ښه او پر شریعت محمدی
مطابق او برابر لری چه همیشه
په مرحمتو او مهربانیو د خپل پادشاه
سرفرازیو - اٰمین +

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِیَ اللّٰہُ
تَعَالٰی عَنْہُ قَالَ بَایَعْنَا رَسُوْلَ اللّٰہِ
صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ عَلَی السَّمْعِ وَالطَّاعَۃِ
فِی الْعُسْرِ وَالْیُسْرِ وَالْمَنْشَطِ وَالْمَکْرَہِ
وَعَلٰی اَثَرَۃٍ عَلَیْنَا وَعَلٰی اَنْ نَقُوْلَ
بِالْحَقِّ اَیْنَمَا کُنَّا لَا نَخَافُ فِی اللّٰہِ
لَوْمَۃَ لَآئِمٍ وَعَلٰی اَنْ لَّا نُنَازِعَ الْاَمْرَ
اَھْلَہٗ اِلَّا اَنْ تَرَوْا کُفْرًا بَوَاحًا عِنْدَکُمْ
مِّنَ اللّٰہِ فِیْہِ بُرْھَانٌ ۔

(صحیح بخاری وصحیح مسلم)

یعنی حضرت عبادہ بن صامت

صحابی (رض) فرمایلی دِی - چہ مُوږ
جماعہ دَ اَصْحابُو لہ رسول مُبارک
علیہ السلام سَرَہ پردے کا رو بیعت
وَکی :-

(۱) قبول دَ اَمْرَ اَوْ اِطاعت پہ وقت
کښ د سختی اَوْ دَ آسانی او پہ حالت
کښ دَ خوشحالی اَوْ د عدم خوشحالی.

(۲) قبول دَ غورہ کیدُو - دَ بل یَوَہ
پہ حکومت سرہ پُرمُوږ باندی.

(۳) رِښتیا وَیْل ہر چیری چہ یو -
او پہ اِطاعت کی دَ خدای تعالے

له ملامتی دَهیڅ ملامت کونکی بیره
نه کَوُو.

(۴) نزاع نه کول پر امارت کی له
اهل سره دهغه - مگر هغه وقت چه
ظاهر کفر چه په نزد دَخدای تعالے
دلیل اَوسند دَعدمِ اِطاعت
کیدلے سِی له دَه شخه بسکاره اَو
ظاهر ولیدسِی - نعوذ بالله منها! -

دا حدیث مبارك سره له دے
چه اَلفاظ یه لرودی - لکن کلی امورات
دَسلطنت اَو اُصُول دَحقوق

دَ پادشاه اَوْ دَ رعیت پکښې دِی۔
کیفیت د بیعت یه د مسلمانانو رعایا
وُو له مسلمان پادشاه سره په دے
رنګه فرمایلی دی:۔
(۱) قَبْلَوَل دَ اَمر دَ اِطاعت په وقت
کی دَ سختی اَوْ دَ اٰسانی اَوْ دَ رضا اَوْ
دَ عدم رضا۔ یعنی رعایا دی په
سخت اَمر اَوْ اٰسان اَمر کی که یه مطابق
له خیاله او یا مخالف له خیاله وی
یو رنګه اِطاعت کوی۔
(۲) که پادشاه په یَوْ حق له حقو بعض

رعایا مخصوص کی - او بعض محروم
اَو یا بعض پر بعضو حاکم اَو بالا
دست مقرر کی - هغه زیردست
سری په قرار دَ اَمر دَ پیغمبر حق دَ
شکوے او دشکایت نه لری -
بلکه قبول دَ اَمر اَو دَ اطاعت تولو
رعایا وُو له لازم دی.

(۳) راست کاری او راست گوئی
هر چیری اَو هر وقت پُر رعایا وُو
لازم دَه چه په امرِ کی دخدای
تعالے له هیچا بیره ونه کی - اَوله

ملامتیا د ملامت کونکو باك وَنه شمیری
راستی خپل خوی وگرزوی - اَوْ دَ
پادشاه حقونه په راستی اداکی - اوله
کِذبه اَوْله دروغه اَوْله فریبه اوله حیلے
له پادشاه سره اَوْ په خپل منځ کی پرهیز
اَوْ اجتناب لازم وشمیری.

(۴) داچه په اِمارت کی له اهل سَرَه
دَ هغه هیڅ نزاع او خلاف ونه کی -
او تر هغو څو دَ - مسلمانانو خلیفه
مسلمان وی اَوْ صریح کفر چه هیڅ شك
اَوْ شبهه پکښ نه وی له خلیفه څخه

ظاهر نسی ترهغه وقت خلیفه دَ وقت
مطاع الامر اَو لازم الاِطاعت دی
اَو نزاع کونکی اَو مُحَرّك دفتنے لازم
القتل دی - اَو ودِے نکتے ته توجه
دَ مسلمانانو لازم دی چه په دے
حدیث مبارك کی چه سبب دَ اِصلاح
دَ حالت دَ جمیع افراد او رافع دَ فتنے
اَو د فساد دی - په باب کښ د عدم
نزاع په اِمارت کښ ډیر تاکید ونه
وارِد سَوِی دِی - اَو په اعجاز نبوی
سره دَ اَمر بخواتر وقوع او پیښیدُو

معلومسوی دی چه بعض رعایا
به په تقاضا د نفس له خپلو امیرانو
سره د وقت نزاع وکی - او د دوی
بهانه د نزاع به لسبت د کفر او د
ظلم او غیره وی پر - داسی نه ده
دا بهانه سبب د تحریك د فساد
او د فتنی ده .

او حضرت هادی د صراط
مستقیم او بانی د شرع مبین علیه
الصلوة والسلام له دی قسم فسادو
تول افراد د امت ترقیامت منع کری دی

اَوْ حِفظ دَ اِسلامی قواعِدَ وْیه په اطاعت
کښ دَ اُولی الاَمْر اَوْ اتفاق اَوْ اِتحاد اَوْ
بازوداری دَ ټولو افرادُو دَ اُمّت
ترلیده - اَوْ داسی فرمایلی دِی چه
ترهغو څو دَ مسلمانانو پادشاه مسلمان
وی اَوْ دَ مسلمانی دَ اُصُولو مُنکر
نه وی واجب الاطاعت اَوْ لازمُ
الاتباعَ دی - مگر هغه وقت چه
دَ مسلمانانو حُکومت پر کافر تکیه
وکی یا دَ مسلمانانو حاکم په ښوهِیدُو
دَ شیطان کفر اختیار کی -

(نعوذ بالله منها) اَوْ دَ اِسلامي
اُصولو انکار وکی اَوْ کفریه ظاهر
اَوْ ښکاره وی چه هیڅ تأویل اَوْ
بهانه اَوْ حیله نه لری - په دے صُورت
کښ دَ مسلمانو رعایاو وصَبر پُر اطاعت
اَوْ زیر دَستی دَ کافر سبب دَ نارضائی
دَ حضرت پیغمبر او باعِث دَ تباهی
دَ ښُو عَمَلو اَوْ دَ غیرتِ اِسلامی دی.
سبحان الله! اِے پاک خُدایه!
څنګه صادق پیغمبر اَو مُوافق خیر
خواه چه تُوله اِرشادات یه سبب

دَ سعادت دَ دْوارو جَهانو زمُوږ
دِی - لہ انعاماتو دَ خدای تعالے
وموږ تہ را عَطا سوی دی - اَوْ پہ
شرافت دَ دَہ دَ اُمت والی مُو فخر پیدا
کړی دی - اَوْ مُوږ مسلمانانو پہ څہ
حد اَوْ اَندازہ پہ اَدَاکی دَ دِینی حقو
اَوْ عمل پہ مقتضا دَ بنی دَ اَمْرُ و تفریط
اَوْ تقصیر کړی دی - چہ پہ خدمت
کښ دَ دین اَوْ دخپل دَوْلت بہانہ
جوئی کُوُوْ !!
هغہ کسان چہ مسلمانان اَوْ پہ امّت

کی د حضرت سیّدُ الانام حِساب دی
اَوْلہ شومی دَ اَعْمالو اولہ غفلت دَ
اِرْشادا تو اَوْ دَ هدایا تو دَ پیغمبر دَ خدای
علیہ الصّلوة والسّلام دَ غیر ملت
تر تسلط لاندِی دی - اَوْ دین اَوْ
ناموس یہ پہ محل کی دَ خطر دی پہ
اِطاعت کی دَ خلو حاکمانو چہ غیر دین
دی کو ښښ کوی - او پہ نفسانی
بهانو او شیطانی اَنْدِیښنُو یہ اِطاعت
د غیر ملت یہ سبب دَ نجات خپل
شمیرلی دی ! او حقیقی کفر !

او ظاهری شرك! او بدیهی نصرانیت
دَ حاکمانو به سبب دَ نِزاع دَ رَعایا
وُو یه له حاکمانو سره نه گرزی.
مُوږ پښتانه مسلمانان چه الحمدلله
وَالمنه دَ عوه دَ غیرت دینی او قومی
اَوْ فطری لَرُو - اَوْ عاشقان دَ محبّت
اَوْ دَ اِطاعت دَ رَسولِ مقبول علیه
الصلوة والسلام یُو اَوْ دَ زړه خادمان
اَو نوکران دَ دِیْنِ اسلامی یو - اَوْ
دَ بل ملت زیردستی ضد اَوْ مخالف
دَ ایمان اَوْ دَ اسلام بُولو - اَوْ په

وارُو وارُو مُوخپل قَوْم اَوْ نامُوْس
لہ زیر دَستی دَ بلِ ملّت پہ حکم دَ دین
اَوْ د ایمان اَوْ پہ توفیق اَوْ مُعاونت
دَ حق سبحان محفوظ اَوْ ساتلی دی
اَوْ کچنی اَوْ لُوی اَوْ ځوان اَوْ زاړہ
مو پہ فَنا اَوْ قربانید و دخپل رُوح
کفیل اَوْ ذمّہ بردارہ دَ حفظ اَوْ
نگهبانی دخپل دین اَوْ نامُوْس
سوی دی - خپلہ هستی یہ پہ زیر
دستی اَوْ محکومیّت کی دَ بلِ ملّت
سبب دَ زِیان اَوْ دَ نقصان دَ دین

اَوْ دَ دُنیا اَوْ دَ نا رضائی د محمّد مُصطفیٰ
اَوْ مُوجب دَ نزول دَ غضَب دَ اَللّٰه
تعالے بللے ده اَوْ بولی یه.
نو سَرَه له دِے چه مُوږ په داسِی
صِفاتِ فاضله وُو مُتّصف یو اَوْ
الحمد لله خپل اَوْ بیگانه په دے سره
اقرار اَوْ اظهار کوی - نو څنگه په
اِطاعت اَوْ محبت اَوْ خدمت کښ
د خپل مُسلمان دین داره پادشاه
چه په ښه نیت اَوْ ښه اعتقاد او ښه
عبادت سره متّصف دی خپل

جانونه محو اَوْ نابود نه کُو؟ او رضا
دَ خپل پادشاه اَوْ سَعْی په اِطاعت
اَوْ فرمان برداری کښ دَ دَه وَلی
دَ پاره دَ رضا د رسول دَ خدای
اَوْ دَ پاره دَ باطلید و دَ فاسِدُو
اِرادُو دَ دُښمنانو دَ دِین اَوْ ناکامی
دَ تدبیرو دَ مفسدان اخوان الشیاطینو حاصله نه کو
اِے مهربانه خدایه و مُوږ
پښتنو ته اَوْ زموږ و پادشاه ته توفیق
اَوْ هدایت نصیب کے چه پر طبق
دَ رضا ښتا اَوْ پر وفق دَ اَمْرُو

دَرسُولِ برحق ستا په خدمت کښ
دَدین او دَدَوْلت تول همّت اَوْ غیرت
صرف کو!

ع :- (دَادُعادهم له ما اَوله ملکووی امتن)

(٣) (فی بعض الکتب)

اِبْنِ آدَمَ تَدْعُوْا عَلٰی مَنْ ظَلَمَكَ وَ
يَدْعُوْا عَلَيْكَ مَنْ ظَلَمْتَهٗ فَاِنْ شِئْتَ
اَجَبْنَاكَ وَاَجَبْنَا عَلَيْكَ وَاِنْ شِئْتَ
اَخَّرْنَا الْاَمْرَ اِلٰی يَوْمِ الْقِيٰمَةِ فَيَسَعُكُمُ الْعَفْوُ

یعنی په بعض اسمانی کتابوکی
دی چه خدای تعالے وانسان ته

خطاب کړی دی - اِے اِبْن آدم؛
تہ ښرا کوی وهغہ تہ چہ پر تا یہ ظلم
کړی دی - اَوْ زما څخہ حق غوارے
اَوْ پہ دغہ حالت کښ و تا تہ بل یو چہ
لہ ظلم پر سَوَی دَی و تا تہ ښرا کوی
او لہ ما څخہ حق غواړی - نو کہ
غواړے دَدْ وارُو دعا بہ قبولہ
کم او ستا حق بہ لہ دہ اَوْ دَدَہ حق
بہ لہ تا واخلمْ - او کہ غواړے دَدْ
وارُو کار بہ وَقیامت تہ پر بږدم
چہ زما لو عفو وټولو تہ وَرَسیږی.

له دے حدیث قدسی واضح سوه
چه هر ستم او ظلم چه انسان له خپل
بالادست وینی - پر دَ غه حالت
کښ ده پخپله پر خپل زیردست
باندی ظلم اَو ستم کړی دی -
چه په سبب دَ عدالت دَ خدای
تعالے پرده باندی خپل بالادست
ظلم او ستم کوی .

نو هر منصف عاقل ته لازم
دی چه حقوق دَ خپلو زیردستانو
ضایع نه کی - اوله ظلم دَ بالادَست

شکوه اَو شکایت ونه کی - اَو اَصلی
علاج یه په رضا دخپلو زیردستانو
وَکی ❖

قَالَ عُبَیْدَةُ السَّلْمَانِی لِعَلِیٍّ رَضِیَ اللّٰهُ
تَعَالٰی عَنْهُ یَا اَمِیْرَ الْمُؤْمِنِیْنَ مَا بَالُ
اَبِیْ بَکْرٍ وَعُمَرَ اِنْطَاعَ النَّاسُ لَهُمَا
وَالدُّنْیَا عَلَیْهِمَا اَضْیَقُ مِنْ شِبْرٍ فَاتَّسَعَتْ
عَلَیْهِمَا وَوُلِّیَتْ اَنْتَ وَعُثْمَانُ الْخِلَافَةَ
وَلَمْ یَنْطَاعُوْا لَکُمَا وَالدُّنْیَا قَدِ اتَّسَعَتْ
فَصَارَتْ عَلَیْکُمَا اَضْیَقُ مِنْ شِبْرٍ فَقَالَ
لِاَنَّ رَعِیَّةَ اَبِیْ بَکْرٍ وَعُمَرَ کَانُوْ مِثْلِیْ

وَمِثْلَ عُثْمَانَ وَرَعِيَّتِي اَنَا اَلْيَوْمَ مِثْلُكَ
وَشِبْهُكَ .

یعنی حضرت عبیدة السلمانی تابعی
لہ حضرت علی کرّم اللہ تعالی وجهه
څخه پوښتنه وکړه چه خلق په څه
سبب د ابوبکر او د عمر رض اطاعت
قبول کی - او دنیا چه یوه لویشت
وه وسعت یه پیدا کی - او چه
نوبت د خلافت وتا او وعثمان ته
ورسیده شتاسی له طاعت یه
نفرت وکی او پراخه دنیا پرتاسی

باندی ترلویشت تنگه شوه حضرت
علی رض په جواب کی وفرمایل چه
دحضرت ابوبکر او عمر رعیت
لکه زه او عثمان داسی کسان وو
له دی جهته زمونږ امیران وهغه
حد ته ورسیده - او زما رعیت
شتاسی په مثال دی نو به څنګه
وهغه حد ته ترقی وکو ؟
له دی اثر مبارکه ودی نتیجی
ته ورسید وچه مادی او معنوی
ترقیات دامر دخلافت او د

سلطنت تابع دَ رعایا وُو دَ حال دِی
که رَعایا په ښه صفتو اَوْ په ایمانی
جُوش وخرُوْش متّصِفْ وی حالت
دَ امارت هم ترقی کوی - اَوْ
خلیفه دَ وَقت له خپلو رعایا وُو
ښه خدمات اخیْستائی سی -
اَوْ له سعی دَ رَعایا وُو لُوی لُوی
دینی اَوْ دنیوی ترقیات حاصلیږی
اَوْ که قومی تعصبات اَوْ اغراض
شخصیه مَدّ نظر دَ رعایا وُو وگرزی
دَ خلافت اَوْ د سلطنت حالت

متغیر بږی - اَوْ دَ رَعایاوُو دَ بدو
اخلاقو په سبب توجه دَ خلیفه
دَ وقت موجب دَ ښُوا و کاملو
فائدو نه گرزی.

نوله دے جهته پر هر فرد دَ رعایاوُو
فرض عین او عین فرض دی چه
کامله توجه و اصلاح ته دخپلو
حالاتو او اعمالو وکی.

(قطعه)

پیغمبر دِ فرمایلی ما و تا ته
چه دی ستاسی عملونه عاملان

که مُو خپل عمل وی ښه حاکم به ښه وِی
اَوْ که بد وی بیا به بد وی حاکمان
که اصلاح دَ حاکم غواړی خپل ځان ښه کی
چه ځان ښه کی خدای به ښه کی حاکمان
(رفتار دَ مجتهدینو دَ رسُول کریم)
(دَ دین)
[په باب کی دَ اطاعت دَ اُولی الامر]
حضرتِ اِمام اعظم اَوْ مُقتدا دَ عالَم
اِمام (ابُو حنیفهٔ کوفی) رحمة الله
تعالی علیه چه یَوْلُوی امام دَ دین
اَوْ مُجتهدِ مطلق دی - اَوْ مُوږ پښتانه

دَدَه پرمذهب اَوْمُقلِّد دَدَه دَ
فِقه دَ احکامویُو- ولادتِ باسعادت
یرپرسنه (۸۰) اتیایمه دَهِجرت اَوْ
وَفات حسرت آیات یرپرسنه (۱۵۰)
یوسل پنخوس هجری کِی دی *
حضرتِ اِمام اعظم د خلیفه
اَبُوجعفرِ منصور دوانیقی (دویم
خلیفه دَخلفای عباسیه وُو)
معاصر دی - چونکه علم اَوْتقوٰی
اَوْزُهد اَوْفقاهت دَاِمام صاحب
شُهرَت پیدا کی (خلیفه ابوجعفر

منصور) اِرادَه وکړه چه دَټول
اِسلامی مَمَالِکُو منصب دَ قضا وَ
اِمام صاحب ته مُفَوَّضه کِی -
نُو یه حضرتِ اِمامِ اعظم صاحب
خپل حضور ته راوَغُوښت اَمْر
یه ورته وَکی چه منصَبْ دَقضا
قبول کِی - چونکه امام صاحب
له ټُولُو نفسانی حُظوظو تیر سَوی
وُو - اَوْ اشغال اَوْ مناصب یه مُخل
دَ اَدا دَ عِبادَاتو اَوْ دَ طاعاتو
بَلَلَ - دَ خلیفه په حضور یه دَ قضا

له منصب اِسْتِعْفا وَکړه - اَوْ د خلیفه
له مجلس مُرَخَّصْ سُو - چونکه همیشه
به ډیر خلق دَ پاره دَ حَل دَ دِینی
مَسْئَلُوْ وَ حُضُوْرته دَ امام صاحب
حاضر یِدَه - حاسِدانو اَوْ مُخالِفانو
دَ امام صاحب وَ خلیفه ته وَ
رَسَوَلَه چه امام اَبُو حنیفه (رح)
دَ قضا منصب قبول نه کی اَوْ
دَ پادشاه له مرحمت او منصب
یه اِبا وَکړه لیکن خپل کُوْر وَ خلقو ته
دَ مسئَلُو فتوٰی ورکَوِی -

(خلیفه ابُوجعفرِ منصور) له دِے
کاره خَپَه سُو اَمر یه وَکی چه ابولیلی
چه لُوی فَقِیهِ عالم اَو مُعاصِر دَ
اِمام صاحب وُ دَ قضا په منصب
دِ مُقرر سِی - اَو حضرت اِمام
ابُوحنیفه دِ بالکل له فتوٰی مَوقوف
وی - حضرت امام اعظم (رح)
پس له صادِرِ ئیدُو دَدِی اَمر
دروَازه په ځان پِسِی وتړله - اَو
هغه کسان چه به د پاره دَحَل دَ
مسئلُو وَرتله تُول بے وَ (ابولیلی) ته

(چه دَ شاگرد په دَرَجه کِی دَ اِمام
صاحب وُ اَوْ په عِلم اَوْ په عمل له اِمام
صاحب سَرَه برابر نه وُ) دَ خلیفه دَ اَمْ
په سبب بے وَرْ لیږل - اَوْ دَ هیڅ
مسئلے جواب یه نه ورکاوه - څُو
یَوَه شْپَه دَ امام صاحب لُوْر چه
خورا پُرگرانه اَوْ قدرمَنْدَه وَه دَ تهجُّد
دَ پاره په نیمه شْپَه وَلاړ سَوِے وَه
پس له تکمیل دَ اَوْ داسه یه غاښ مُبارک
لږ څه وِینی سَوَیْ وُ - چه ناړِی
یه وَلیدِے په سبب دَ لږ تغیر

درنگ دَ نارُو - پہ نُقض کِی دَ
اَوْداسہ مُشْتَبِہ سْوَہ پہ ھغہ
نِیمہ شْپَہ وَخْپل پْلارتہ وَرَغْلَہ
کیفیَّت دَ اَوْداسہ یہ عرض کی -
اَوْحل دَ دِے مسئلے یہ لہ حضرتِ
امام صاحبَ وَغُوښْت - امام
صاحب پہ دِے شریف وقت
کښ پہ تھجُّد مشغول وُ - وخپلی
پاکِی عَفِیْفِی لُوْرتہ یہ پہ نظر دَ مرحمت
وکتل اَوْ وِیْرَ بَرَلْ او پہ حَلْ کِی دَ
سوال یہ عُذر وَغُوښْت - اَوْ پہ

ډیر رِقَّتْ یه وَوَیل چه (اِے زْما
دَ زړګی سره!) خلیفه دَ زمانے
زه له فتوٰی مَنْعَ کړی یَمْ حل شْتا
دَ سوال نه سم بیانه وَلاۍ - له
قاضی ابی لیلی چه قاضی دَ مملکت
اَوْ مَنْصُوْب دَ خلیفه دَ وَقت دی
دخپل مطلب حَلْ وَ غوارَه له دِے
جوابِ باصوابَ یه پاکَ عفیفه
لُور هُم په بَرَ اسْوَهْ - اَوْ دْوَارُوْ
ډِیر وَ بَرَ لْ - حضرتِ امام صاحب
وَوَیل چه لیاقت دَ قضا دَ منصب

می پہ جان کښ نہ لیدلہ دِے جھتہ
می پہ حضور دَ خلیفہ اِستعفا
وکړہ - لیکن پہ نیمہ شپہ پہ باب
کی دَ حل دَ سوال دَ خپلی لُور پُر خلاف
دَ اَمر دَ خلیفہ فتوی نَسَمْ وَرْ کَوَلای
(سُبحان اللہ! اِے پاک خدایہ!)
څنګہ متین دین اَوْ څہ اِمامان
اَوْ تابعان دَ حضرت سَیّد المُرسلین
لَرُوْ! چہ تَقْلِیْد اَوْ مُتابعت دَ آثارِ
مُبارَکہ دَ دُوْی سبب دَ نجات
دَ دُنْیا اَوْ دَ عُقْبیٰ زْمُوْږ دی.

اِے پښتنو!

رفتار اَوْ سُلوك دَ حَضْرتِ اِمامِ
اعظم (رحمۃ اللہ علیہ) چہ زْمُوږ
مُقتدا اَوْ امام دَ دِین دی داوُو
چہ پہ نیمہ شپہ یہ پہ حل کی دَ دِینی
مسئلے وَخپلی لُورتہ پُر خلاف دَ
اَمْر دَ خلیفہ فتوی نہ ورکولہ!
مُوږ پښتانہ چہ الحمد للہ تعالے دَ
حضرت امام صاحب تابعان یُو
پہ دِے اَخیرہ زمانہ چہ جدائی
لہ قومَ اَوْ لہ مسلمانَ پادشاہَ سبب

دَشْلیْدُوْ اَوْ دَخرابی دَشِیْرازِے
دَاِسلامی حکومت گرزِی۔ وَلی
پہ اطاعت اَوْ مُحبَّت کښِ دَخپل
پادشاہ لہ سرہ قدم جُوړ نہ کوُ؟ اَوْ
وَلی رَضا دَخپل اُولی الامر دَپارہ
دَترقی دَخپل دین اَوْ دَوْلَتْ
حاصِلہ نہ کو؟

تمّت

(ترجمہ دَ فرمان دَ اعلیحضرت همایونی)

شپہ دَ دُوشنبے ۲۵ دَ لمړی خُور سنہ ۱۳۳۴

عالیجاہِ فضایل همراه قاضی القضاة

تہ دِی واضح وِی!

اَحَادیثِ شریفہ اَوْ بعضے اَقوال

چہ پہ دِے رسالہ کښِ دَرْج دی۔

ښے پہ دُرستی مُلاحظہ کہ۔ کہ لہ

شرعِ شریفی سَرَہ مطابق وِی تصدیق

یہ وکہ ٭

(دستخط مُبارک اعلیحضرت)

پہ چابکی بے وَحُضور تہ رالیږے انشاء الله تعالی

(ترجمہ دَ جواب دَ فرمان)

تصدّق دَ حضور دَ اعلیحضرت والاسمَ! پہ باب کی دَ رِسالے دَ اِطاعت دَ اُولی الامر چہ لہ حضورہ رالیږلے سَوِی دہ۔ عرض گوم چہ پہ باب کی دَ اِطاعت دَ اُولی الامر ہر څونہ ډِیْرْ دِینی دَلایل کہ نوشتہ سِی ھَنُوز لږ دِی۔ ولی چہ اِطاعت دَ اُولی الامر دْ رَیَمْ دَ اِطاعت دَ خدای اَوْ دَ رسول دی۔ اَوْ پہ اَمْرِ مباح کے اِطاعت دَ اَمْر دَ اُولی الامر

واجب گرزی - اَوْ ډیر لازم دی چه
په دِے باب کِی رسایل اَوْ توالیف
اجرا اَوْ چاپ سی - پخپله دِے
بنده دَ خدای تعالے په دِے باب
کی ټنگ عزم دَرْ لُوْوْ چه په باب
کی دَ اِطاعت دَ اولی الامر دِینی
دَلایل وَلِکم لیکن په سبب دَ ډِیْر
وَالی دَ مرض وَ جَنْډِیْده - دَ رِسالہ
صحیح اَوْ واجبُ الْعمل دَه - زیاتی
اختیار دَ حضور والا دی - بلکه
اَمْر دَ اُولی الامر مُباح کار واجب

گرزوی فقط (خدای دِی دَ
دْوَارُو جهانو خیر نصیب کی پہ
برکت دَ مُحَمَّدْ صلّے اللہ علیہ وَسلم).
(دستخط قاضی القضاۃ صاحب)

بزبان افغانی قندھار برابر
ترجمہ شدہ فقط
(دستخط کمینہ ملا محمّد)
(عرضبیگی)

(اعتذار)

دَا رِسالہ، لہ فارسی رِسالے
څخہ تَحْت اللَّفظ ترجمہ سَوِی دہ۔
ہر ځای لحاظ دَ مَعنی سوی دی
نہ دَ عبارت آرایَیْ۔

(فرد)

کہ خطا پہ عبارت کی وِی باك نستہ
اَهْل دل غواړی مضمون اَوْ ښہ مَعْنیٰ

مترجم :- صَالِحْ مُحَمَّدْ

(از مترجم دَر اطاعت اُولی الامر)

(قطعه)

اِطاعت دَ اولی الامر فرضِ عَین دی
بلے بلے ثابت سوی پہ قرآن
اَرویدلی بہ دِوِی چہ خلق وائی
رَعایا دِی ټولہ پسُونہ شہ شبان
هغہ پسَہ چہ اِطاعت دَ شبان نہ کی
خود بے وَخورِی دَی لیوان اَوشرمُوشان
پسَہ دَ جان پہ خیر وشر کلہ پُوهیږی
لہ رَمے وَوزِی لُقمہ سِی دَ گُرگان
چہ لیوہ پُر رَمہ راسی دَاسِی تیِتہ
جمعیت پریږدی رهی سِی پُر بیابان

چه جدا جدا سی دُوی خپل شپانه پریږدی
لیوه خپل مطلب حاصل کی په دا آن
چه لیوه په رمه گډ سی حال بے داوی
په سرُو وینو ټول لړلی پری لمان
جدا مه سی جدائی توره بلا ده
هم دغه له خدا یه غواړی دښمنان
دَ دُښمن هم دا مطلب دی مثل وا روه
لیوه څه غواړی له خدا باد و باران
جدا مه سی له رمے شپانه قبول کی
اَوکه نه وی بیا به وکی ډیر ارمان
په رکاب کی یه سرور کی ښه تابع سی
شکرے وکی زمونږ شپانه دی مسلمان

دَهَرشْپه تعظیم لازم پُرْهَرِ میږی
اَوْکه نه کی خود به وَکی دیر نُقصان
باری خدایه ته توفیق راکی وَموږ ته
چه دَخپل شپانه تابع سُو په ښه شان
څونه لُوی نعمت دَرَب دی پُرمُوږ سَوی
چه پادْشاه مُو مُسلمان دی هم افغان
دَغه لُو مِهْربانی دَخدای دَه جانه
چه له خپله قومَ دی زْمُوږ شَبان
خدایه وْرَکه جدائی اَوْ دُوْرَنگی کِی
تمو له یَوْکاندِی جمله مسلمانان

—(اٰمین)—

الحمدلله والمنه که رساله نافعه (پښتو) اطاعت
اولی الامر حسب الفرمان عالی متعالی معین السلطنه
صاحب افخم در مطبع سنگی ماشین خانه دار السلطنه کابل باهتمام
جناب فخامت انتساب جرنیل صاحب محمد سرور خان
جرنیل کارخانه جات - بقلم فقیر احقر السادات
سید محمد ایشان تحریر شده بچهاپ رسید .

این اثر نخستین است که در دار السلطنه کابل
از یمن توجهات حضرت معین السلطنه صاحب بزبان قومی
افغانی چهاپ و شایع گردیده است الله تعالی
نافع گرداناد آمین یا رب العلمین .

بتاریخ یوم پنجشنبه سوم شهر شوال المکرم ۱۳۳۴ هجری باتمام رسید

LIBRARY OF CONGRESS
1900

LIBRARY OF CONGRESS
0 006 219 665 8